**پامپیو په ریاض کې: موږ د ایران له پراخه تروریستي فعالیتونو بې خبره نه یو**




د امریکا د بهرنیو چارو نوي وزیر مایک پامپیو سعودي ته په خپل لومړني سفر کې، ایران د سیمې په ناامنه کولو تورن کړ. پامپیو له خپل سعودي سیال عادل الجبیر سره په یو مطبوعاتي کنفرانس کې داسې وویل: «ایران د هستوي پرېکړه لیک له لاسلیک وروسته له خپل ټاکلي حد څخه بهر فعالیتونه کوي.» نوموړي ټینګار وکړ چې ایران سیمه ناامنه کوي، حوثیان تجهیزوي او په الکترونیکي جاسوسي فعالیتونو کې لاس لري. پامپیو زیاته کړه: ((د پخوانۍ ادارې برعکس، موږ د ایران له پراخو تروریستي فعالیتونو بې خبره نه یو.))

ال سعود چارواکي پر خیانت عادت او پکې ډوب دي او د حکومت بنسټ یې پر خیانت جوړ شوی دی. د آل سعود د چارواکو د رسوایۍ وخت رارسېدلی، پټې دوسیې او دسیسې یې د عقل خاوندانو ته ښکاره شوي دي. ال سعود د امریکا د مزدور اسد د نظام د بقا لپاره په غوطه کې سترو ډلو ته د خپلې سوداګرۍ له لارې چټلې پیسې ورکړې چې د بشار نظام پر وړاندې پورته نه شي. د آل سعود چارواکي په خپلو دغو عملونو سره داسې وژونکي زهر دي چې له ورایه ډېر ښه ښکاري او ظاهرا د شام خلکو ته داسې ښيي چې ګواکې خواخوږي ورسره کوي، په داسې حال کې چې دروغ وایې او په شام کې د امریکا د نفوذ د ساتنې او د پروژو د پلې کولو لپاره هڅه کوي.

د سعودي چارواکو دا ډول خيات او جنايتونه په يمن کې هم ليدلی شو. سعودي چارواکي د امريکا د لوبې له ترسره کوونکو پرته بل څه نه دي. امريکا غواړي د سعودي چارواکو په مرسته د انګليس هغه مزدوران چې کلونه يې پر يمن واکمني کړې، د لوبې له ډګره وباسي او په بدل کې يې نورې حلالرې وټاکي، خو د سعودي چارواکو دا ادعا چې وايې د يمن له خلکو او له سني مذهب څخه دفاع کوي، دا د دوی د دسيسو د پټولو لپاره يوازې يوه تبليغاتي وسيله ده.

**منيب حميدی**